هفته واره رساله:359
WEEKLY BOOKLET:359

د سلسلهٔ عالیه قادریه رضویه عطاریه د نهم پیر او مُرشِد ذِکر په نوم

# د معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فيضان

PASHTO



- د إسلام قبلولو واقعه
- د دُنیا د محبت نه د نجات موندلو میوه
- په اوبو به کرځیدلو او په هوا به الوتلو
- د دُعا د قبلیدو ځائي

پیشکش: (دعوتِ اسلامی)
المدینه العلمیه
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فیضان

**دُعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فیضان " ولولي یا واوري، هغهٔ د بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم پهٔ فیضان باندې مالا مال کړې او سره د موره او پلاره یې پهٔ جنّت الفردوس کښې د خپل خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ نصیب کړې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## چرې هم عذاب نه ورکوي (د دُرُود شریف فضیلت)

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** څوک چې پهٔ ما باندې دُرُود شریف لولي، الله پاک هغهٔ ته د رحمت نظر فرمائي او چا ته چې الله پاک د رحمت نظر ووفرمائي هغهٔ له چرې هم عذاب نه ورکوي۔ (افضل الصلوات علی سید السادات، ص 40)

حشر کی تیرگی، سیاہی میں نور ہے، شمع پُر ضیا ہے دُرود
چھوڑیو مت درود کو، کافیؔ! راہِ جنّت کا رہنما ہے درود

(دیوانِ کافی، ص 23)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سرو زرو 500 سکے

حضرت سیدنا ابو عباس مؤدِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو سید صاحب

زما پهٔ ګاؤنډ کښې اوسيدو د چا معاشي حالات چې مخکښې ښه نه وو، هغوئي ما ته خپله واقعه بيان کړه چې زمونږ کره ماشوم پيدا شو نو پهٔ کور کښې مې داسې هيڅ يو څيز نه وو کوم چې مې خپلې ښځې له ورکړے وے. غم زپلې ښځې ما ته فرياد وکړو چې اے زما سرتاجه! تا ته زما حالت معلوم دے، ما ته د خوراک سخت ضرورت دے د پاره د دې چې زما کمزوري لرې شي، د خدائے د پاره څهٔ وکړئ. سيد صاحب فرمائي: ما چې د خپلې ښځې دا حالت وليدو نو زهٔ ناقلاره شوم او د ماسخوتن د نـمونځ نه پس د سودا (يعني راشن) والا دکان ته لاړم، د چا نه چې به ما سامان اخستو، د هغهٔ پهٔ ما باندې څهٔ قرض هم وو. ما هغهٔ ته د خپل کور حالت بيان کړو او زر مې د رقم ورکولو د نيت سره د خوراک څښاک څهٔ سامان وغوښتو خو هغهٔ انکار وکړو. زهٔ پهٔ دې پريشانی کښې بَل دکاندار له ورغلم او هغهٔ ته مې هم هٰغسې ووئيل لکه څنګه چې مې مخکښيني دکاندار ته وئيلي وو خو هغهٔ هم انکار وکړو. غرض دا چې د چا چا نه مې طمع وه، د هغه ټولو خوا له لاړم خو چا هم زما مدد ونکړو. زهٔ ډير خفه شوم او سوچ مې کولو چې اوس د چا خوا له لاړ شم؟ پهٔ دې سوچ سوچ کښې زهٔ د دجلې د درياب پهٔ لور لاړم، هلته مې يو مانګے (يعني کشتی چلولو والا) وليدو چا چې د مسافرو انتظار کولو. زهٔ يـې چې وليدم نو اواز يـې وکړو چې که څوک مسافر وي نو رادې شي. زهٔ پهٔ کشتی کښې

کښېناستم او کشتۍ روانه شوه۔ کشتۍ چلونکي زما نه پوښتنه وکړه چې چرته ځې؟ ما ووئیل چې ما ته پته نشته۔ ماښکے حیران شو او اوئې وئیل چې تاسو ته د خپل منزل پته هم نشته او په کشتۍ کښې کښېناستئ؟ ما چې ماښکي ته د خپل کور حالت بیان کړو نو هغۀ ډېر په همدردۍ سره ووئیل: زما وروره! غم مۀ کوه، زما نه چې څومره کیدے شي ستاسو د پریشانۍ حل کولو کوشش به کووم۔ بیا هغۀ په یو ځائے کښې کشتۍ ودروله او د دجلې دریاب په غاړه یې د یو جومات خوا له بوتلم او اوئې وئیل: زما وروره! په دې جومات کښې یو بزرګ شپه او ورځ په عبادت کښې مصروف وي، تاسو په هغوئي باندې دُعا وکړئ، که الله پاک وغوښتل نو ضرور به ستاسو د پریشانۍ حل راوځي۔

سید صاحب فرمائي چې ما اودس وکړو او جومات ته داخل شوم نو څۀ ګورم چې هغه بزرګ په محراب کښې نمونځ ادا کوي۔ ما هم دوه رکعته ادا کړل او سلام مې وکړو او د هغوئي په خوا کښې کښېناستم۔ د خپلو معمولاتو نه چې فارغ شو نو هغه بزرګ ما ته ووفرمائیل: الله پاک دې په تاسو باندې رحم وکړي! تاسو څوک یئ؟ ما خپله ټوله واقعه بیان کړه، هغه بزرګ زما خبره ډېره په توجه سره واوریده او بیا یې نمونځ شروع کړو۔ بهر باران شروع شو او زۀ ډېر ویریدم او سوچ مې وکړو چې زۀ د خپل کور نه څومره لرې راغلے یم، پته نه لګي چې کور والا به

مې پهٔ کوم حالت کښې وي؟ زهٔ به پهٔ دې سخت باران کښې خپل کور ته واپس څنګه ځم. پهٔ دې کښې يو کَس جومات ته راغلو او د هٰغه بزرګ خوا ته کښيناستو. هٰغه بزرګ چې کله د نـمونځ نه فارغ شو نو هٰغه کَس عرض وکړو: حضور! زهٔ د فلانکي کَس نمائنده يم، هغوئي تاسو ته سلام او څهٔ نذرانه وړاندې کړې ده. دا يې چې واوريدل نو هٰغه بزرګ ووفرمائيل چې دا ټول رقم د دې سيد شهزاده پهٔ خدمت کښې وړاندې کړه. هغهٔ پهٔ حيرانتيا سره عرض وکړو: حضور! دا پينځه سوه (500) ديناره [يعنې د سرو زرو سکے] دي. اوئې فرمائيل: آؤ! دا ټولې دهٔ له ورکړه. هغهٔ ټول رقم ما له راکړو. ما ټول رقم پهٔ څادر کښې کيښودو او د حضرت مننه مې وکړه او پهٔ باران کښې د کور پهٔ لور روان شوم، خپلې علاقې ته چې راورسيدم نو هم هٰغه راشن والا دکاندار ته مې ووئيل چې الله پاک د خپل رزق د خزانو نه ما ته پينځه سوه (500) ديناره راعطا کړې دي. ستا چې پهٔ ما باندې څومره قرض دے هغهٔ واخله او ما له د خوراک سامان راکړه. دکاندار ووئيل: في الحال دا رقم تر سبا پورې هم د ځان سره وساته او چې کوم څيزونه اخستل غواړې واخله، بيا هغهٔ د شاتو، شکرو، د خوراک د تيلو، وريژو، وازګې او نور ډير د خوراک سامان ما له راکړو، ما ووئيل: زهٔ به دومره ډير سامان څنګه وړم، بيا مونږ دواړو سامان راواخستو او د کور پهٔ لور روان شو. کور ته چې راورسيدم نو دروازه

برسيره وه، زما ښځې چې زۀ وليدم نو ګيله يې وکړه او اوئې وئيل: تا پۀ دې نازک حالت کښې زۀ پريښودم او چرته لاړې، لوږې او کمزورۍ زما حالت خراب کړو۔ ما ووئيل: د الله پاک پۀ فضل او کرم سره زمونږه پريشاني ختمه شوه، دا وګوره! غوړي، وازګه، شَکر، تيل او د خوراک ډير سامان مې راوړے دے، هغۀ ډيره خوشحاله شوه، بيا ټولو ډوډۍ وخوړله او د الله پاک شکر يې ادا کړو۔ سحر چې ما خپلې ښځې ته هٰغه دينار وښودل او ټوله واقعه مې بيان کړه نو هغۀ ډيره خوشحاله شوه او پۀ دې غيبي مدد يې د الله پاک شکر ادا کړو، بيا مونږه څۀ زمکه واخسته د پاره د دې چې پۀ هغې کښې کرونده وکړو او د هغې پۀ ذريعه خپلې خرچې پوره کړو۔ الله پاک د هٰغه بزرګ پۀ برکت زمونږه تنګ لاسي او غريبي ختمه کړه، الله پاک دې هغوئي ته زمونږ د اړخه ښه جزا عطا کړي۔ (عيون الحکايات، ص 277،276)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آيا تاسو ته معلومه ده چې د الله پاک دا نيک بنده او مقبولُ الدُّعا بُزرګ څوک وو؟ دا د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه نهم پير او مرشد حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو۔

## تعارف او ولادت

د سلسلهٔ قادريه رضويه عطاريه د نهم پير او مرشد، عظيم تبع تابعي بزرګ حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ نوم معروف او کُنيت ابو محفوظ دے۔ هغوئي د بغداد شريف پهٔ ''کَرخ'' علاقه کښې دنيا ته تشريف راوړلو پهٔ دې وجه هغوئي ته ''کَرخي'' وئيلے شي۔ هغوئي تبع تابعي(1) بزرګ او د امام اعظم امام ابو حنيفه نعمان بن ثابت رَحْمَةُاللہِ عَلَیْہ مقلد وو۔

(مسالک السالکين، 287،286/1)

## د اِسلام قبلولو واقعه

د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ خاندان مخکښې غير مسلمه وو۔ د الله پاک پهٔ رحمت او د هغوئي پهٔ برکت ټولو د اِسلام لمن ونيوله۔ د هغوئي د اِسلام قبلولو واقعه ډيره خوندوره او نا اشنا ده، د هغوئي د ورور بيان دے چې زهٔ او زما ورور حضرت رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ به د زدکړې د پاره تللو۔ مونږه هغه وخت مسلمانان نه وو، زمونږه غير مسلمه استاذ به ماشومانو ته مَعَاذَ الله! د کُفر او شِرک سبق ښودلو نو زما ورور ''معروف'' به پهٔ تيز اواز اَحَد، اَحَد (يعنې الله يواځې دے، هغهٔ يو دے) وئيل نو غير مسلمه استاذ به هغوئي ډير وهلو تر دې پورې چې هغهٔ حضرت معروف

---

(1) ... تابعي هغوئي ته وئيلے شي چا چې د صحابي سره د ايمان پهٔ حالت کښې ملاقات کړے وي او د هغوئي خاتمه هم پهٔ ايمان باندې شوې وي او تبع تابعي هغوئي ته وئيلے شي چا چې د ايمان پهٔ حالت کښې د تابعي سره ملاقات کړے وي او د هغوئي خاتمه هم پهٔ ايمان باندې شوې وي۔ (معجم لغة الفقهاء، ص 117)

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دومره ووهلو چې هغوئي چرته بل خوا تشريف يوړلو۔ زما مور به ژړل او وئيل به يې: که الله پاک ما ته زما "معروف" واپس راعطا کړو نو چې هغۀ په کوم دِين باندې وي زۀ به هم په هغه دِين باندې عمل کووم۔ ډير کلونه پس حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپلې مور بې بي خوا له راغلو نو مور ترينه پوښتنه وکړه: ځويه! ته په کوم دِين باندې يې؟ هغوئي ارشاد ووفرمائيلو: په "دِينِ اِسلام باندې" مور بي بي اَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ ولوستله۔ داسې زما مور محترمه او مونږه ټول مسلمانان شو۔ (بحر الدموع، ص 39)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په شجرۀ قادريه رضويه عطاريه کښې ذِکرِ خير

امير اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې خپل هر مريد او طالب ته کومه شجرۀ قادريه رضويه عطاريه عطا کړې ده، په هغې کښې د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه د نهم تبع تابعي بزرګ، حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د لسم پير او مرشد حضرت سَرِي سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله داسې دُعا شوې ده:

بَہرِ مَعْروف و سَری معروف دے بے خُود سَری

## د دُعائيه شعر مفهوم

يا الله پاکه! ما ته د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه پهٔ وسيله نيکي او خير راعطا کړې او د حضرت سَري سقطي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه پهٔ وسيله ما د عاجزی او انکساری نمونه جوړه کړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د عربی شجره

امامِ اهلِسُنَّت، اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه د عربی يوه شجره مبارکه، بصيغهٔ دُرود شريف ليکلې ده، هغوئي پهٔ هغې کښې د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه ذِکرِ خير څهٔ داسې کوي: " اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَ بَارِكۡ عَلَيۡهِ وَعَلَيۡهِمۡ وَعَلَى الۡمَوۡلَى الشَّيۡخِ مَعۡرُوۡفِ نِ الۡكَرۡخِيۡ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنۡهُ" اے الله پاکه تهٔ پهٔ حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې رحمت او برکت نازل کړې او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ آل او اصحاب او زمونږه پهٔ سردار شيخ معروف کَرخي رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ باندې هم. (تاريخ و شرح شجرهٔ قادريه برکاتيه رضويه، ص 154)

## د غير مسلمي کورنی اِسلام قبلول

حضرت عامر بن عبدُ الله کَرخي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي چې زما پهٔ ګاؤنډ کښې يو غير مسلمه اوسيدو. يوه ورځ هغهٔ زما خوا له راغلو او اوئې وئيل: اے ابو عامره! د ګاؤنډي پهٔ حيث پهٔ تاسو باندې زما حق دے،

زۀ تاسو له د شپې او د ورځې د پيدا كوونكي وسيله دركووم او وايم چې
ما د الله پاک د يو ولي خوا له بوځئ د پاره د دې چې ما ته د ځوي د پاره
دعا وكړي۔ زما په زړۀ كښې د ځوي ډير خواهش دے، ما هغۀ د ځان سره
كړو او د حضرت معروف كَرخي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه په خدمت كښې حاضر شوم
او ټوله معامله مې عرض كړه۔ هغوئي چې هغۀ ته د اِسلام دعوت وركړو
نو هغۀ ووئيل: اے معروفه! الله پاک چې تر څو پورې ما ته هدايت عطا
نه كړي تر هٰغه وخته پورې تۀ ما ته هدايت نشې راكولے، زۀ ستاسو خوا
له صرف د دعا د پاره حاضر شوے يم۔ حضرت معروف كَرخي رَحۡمَۃُ اللہِ
عَلَیۡه څۀ داسې دُعا وكړه: يا الله پاكه! دۀ ته داسې ځوي عطا كړې كوم چې
د مور پلار سره ښه سلوک كوي او هغوئي دواړه د هغۀ په لاس باندې
مسلمانان شي۔ الله پاک د خپل مقبول بنده دعا قبوله كړه او هٰغه غير مسلمه
ته يې داسې ځوي عطا كړو څوک چې د خپل ذهانت په وجه د خپل وخت
د ټولو ماشومانو نه وړاندې لاړو۔ چې كله هغۀ لږ لوئي شو نو د هغۀ پلار د
خپل دِين د تعليم وركولو د پاره هغۀ بوتللو۔ د هغۀ غير مسلمه استاذ هغۀ له
تختۍ وركړه او اوس يې لا "ووايه" وئيلي وو چې هٰغه ماشوم ووئيل: زما
ژبه غير خدائے ته د خدائے وئيلو نه منع كړے شوې ده او زما زړۀ زما د
رَبِّ كريم په محبت كښې مصروف دے۔ د دې نه پس ماشوم داسې ښكلې او
د الله پاک د پيژندګلو ژورې خبرې وكړې د كومو په اوريدو چې استاذ

حيران پاتې شو او د هغهٔ زړهٔ ژوندے شو. هغهٔ ته معلومه شوه چې هم دينِ اِسلام رښتونے دِين دے. د دې نه پس ماشوم يو څو شعرونه ووئيل، د کومو مفهوم چې څهٔ داسې دے: آيا هم هغهٔ رښتونے نه دے کوم چې ژړوي، خندوي، ژوند او مرګ ورکوي، د مخلوق د پاره فصل زرغونوي؟ يقيناً چې هم هغهٔ د عبادت لائق دے لهٰذا څوک چې د هغهٔ در پريږدي او د بَل چا دَر ته لاړ شي هغهٔ نقصان کوي، هغهٔ خپل بنده پهٔ ګناه کولو وينې بيا هم د هغهٔ پرده فرمائي (يعنې ګناهونه يې پټوي) او خپل بنده ته بغير د غوښتو عطا کوي. هغهٔ د ګنهګارانو سره د بخښنې معامله کوي.

چې کله غير مسلمه استاذ د ماشوم ايمان تازه کوونکے دا کلام واوريدو نو هغهٔ حيران پاتې شو او هغهٔ هم پهٔ زړهٔ کښې کلمهٔ شهادت "اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ" ووئيله. بيا يې ماشوم د خپل پلار خوا له بوتللو. چې پلار يې دواړه وليدل نو ډير خوشحاله شو او د استاذ نه يې پوښتنه وکړه: ستاسو پهٔ خيال زما ماشوم څومره ذهين دے؟ بيا هغهٔ ټولې خبرې د ماشوم پلار ته بيان کړې. پلار يې ووئيل: پهٔ خدائے مې دې قسم وي! زما ځوي هم د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُعا پهٔ برکت دې مقام او مرتبے ته رسيدلے دے. زهٔ ګواهي ورکووم چې د الله پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته او حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغهٔ رښتونے رسول دے. د دې نه پس د ماشوم مور او ټول کور

والۀ اِسلام قبول کړو- (الروض الفائق، ص 186 ملتقطاً)

دُعائے ولی میں یہ تاثیر دیکھی بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شان

حضرت ابو محفوظ معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اهلِ بيتِ نبوت د شمعي، حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه ډير عِلمِ دِين حاصل کړو- هغوئي د خپل وخت په ډيرو لوئي اوليائے کرامو کښي وو- حضرت عبد الوهاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه لوئي زاهد (يعني د دُنيا نه بے رغبته) هيڅوک نه وو ليدلي- (تاريخ بغداد، 208/13)

## په اوبو باندې به ګرځيدلو او په هوا به الوتلو

حضرت ابنِ مردويه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې مونږ د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په صحبت کښې ناست وو، په هغه ورځ ما د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مخ خوشحالي وليدله نو عرض مې وکړو: اے ابو محفوظ! ما ته معلومه شوې ده چې تاسو په اوبو باندې ګرځئ؟ نو هغوئي ارشاد ووفرمائيلو: زۀ چرې هم په اوبو باندې نه يم ګرځيدلے بلکې چې کله زۀ په اوبو باندي د پورې وَتو اراده کووم نو د هغې دواړه اړخونه د يو بَل سره يو ځائے کيږي او زۀ په هغې باندې قدم ږدم او ګرځم-

حضرت حسن بن عبد الوهاب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: خلق وائي چې حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په اوبو باندې ګرځي، که ما ته ووئيلے شي چې هغوئي په هوا الوځي نو زۀ به د دې خبرې هم تصديق وکړم- (الروض الفائق، ص 183)

د معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په بارګاه کښې اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د فارسی په شعر کښې عرض کوي:

یا شہِ معروف مارا رہ سوئے معروف دِہ

**ترجمه:** اے حضرت معروف کَرخي (اے د نيکو بادشاه)! مونږ له د نيکئ په لور لاره راکړه!

## د معروف مقام او د علومو اَصل

د کروړونو حنبليانو عظيم پيشوا، حضرت امام احمد بن حنبل او ډير لوئي محدّث حضرت يحيیٰ بن معين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِما به اکثر د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له تشريف وړلو او مسئلې به يې ترينه معلومولې، د حضرت سيّدُنا امام احمد بن حنبل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ځوي حضرت عبدُ الله رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما خپل پلار محترم ته عرض وکړو چې ما ته معلومه شوې ده چې تاسو به د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له تشريف وړلو، آيا د هغوئي سره عِلمِ حديث وو؟ نو حضرت امام حنبل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ارشاد ووفرمائيلو: اے زما د زړۀ ټوټې! د هغوئي سره د معاملې

اَصل يعني د الله پاک تقوىٰ (يعني د الله پاک نه ويره) وه- (قوت القلوب، 263/1)

## د سجدۀ سهو معامله

د کروړونو حنبليانو عظيم پيشوا، حضرت امام احمد بن حنبل او ډير لوئي محدّث يحيىٰ بن معين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهما يو ځل د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا له تشريف يوړلو- حضرت يحيىٰ بن معين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووفرمائيل چې زۀ د دوئي نه د ”سجدۀ سهو“ په باره کښې پوښتنه کول غواړم- امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته د خاموشه پاتې کيدو ووفرمائيل خو هغۀ خاموشه پاتې نه شو او عرض يې وکړو: اے ابو محفوظ! تاسو د سجدۀ سهو په باره کښې څۀ فرمايئ؟ حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد ووفرمائيلو: دا د زړۀ د پاره سزا ده چې دا د نمونځ نه ولې غافله شو او بل خوا متوجه شو- دا يې چې واوريدل نو حضرت سيّدُنا احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد ووفرمائيلو: دا خبره ستاسو په ذهانت باندې دلالت کوي- (تاريخ بغداد، 202/13، 201)

## عادتونه مبارک او پاک کردار

د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه نهم تبع تابعي بزرګ، حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به بغير د څۀ ضرورت نه څۀ سبب نه اختيارولو بلکې هم د ضرورت مطابق به يې اختيارولو- حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل چې زۀ د خپل رَبّ په کور کښې ميلمه يم، که هغۀ

يـې پهٔ ما خوري نو خورم يـې او که هغهٔ ما وږے ساتي نو صبر کووم تر دې پورې چې هغهٔ يـې پهٔ ما وخوري۔ هغوئي به هيڅ څيز نه جمع کولو او اوږده اميدونه به يـې نه تړل بلکې هغوئي د ولايت هٔغې عظيمې مرتبے ته رسيدلي وو چې د يو نـمونځ نه تر بَل نـمونځ پورې به يـې د ژوندي پاتې کيدو اميد نه وو، چې کله به يـې د ماسپښين نـمونځ ادا کړو نو خپلو ګاؤنډيانو ته به يـې فرمائيل: ”د ځان د پاره يو داسې کَس ولټوئ څوک چې تاسو له د مازديګر د نـمونځ جَمعه درکړي۔“ لکه چې د هغوئي د الله پاک د خوږ او آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ فرمان مبارک ” پهٔ هٔغه پاک ذات باندې قسم د چا پهٔ دستِ قدرت کښې چې زما ځان دے! چې کله زهٔ خپلې سترګې رَپَووم نو دا ګمان کووم چې چرته زما د باڼو د برسيره کيدو نه مخکښې الله پاک زما روح قبض نه کړي او چې کله خپل بانه اوچتووم نو دا ګمان مې وي چې هسې نهٔ د دې د راښکته کولو نه مخکښې د مرګ وعده رانشي او چې کله يوه نـمړۍ اخلم نو دا ګمان وي چې دا به حَلق ته کوزه نکړم چې مرګ دا پهٔ مرۍ کښې ودروي۔ اے اولادِ آدم! که تاسو عقل لرئ نو خپل ځان پهٔ مړو حساب کړئ، څکه چې ستاسو سره کومه وعده کولے شي هغهٔ به خامخا پوره کيږي۔“ (شعب الايمان ، 355/7، حديث:10564) عامِل وو۔ (قوت القلوب، 30/2)

**اے د اوليائے کرامو عاشقانو!** ژوند ډير لږ دے مونږ ته معلومه نه ده

چې مونږ د خپل ژوند زیات وخت تیر کړے دے که کم، البته مرګ څۀ وخت او چرته هم راتلے شي، کاش چې مونږ د مرګ نه مخکښې د مرګ تیاری کولو والا جوړ شو او هر وخت مرګ یاد کړو، کاش چې مونږ د سُنّتو پۀ لار روان شو، اے کاش چې کله زمونږه آخري وخت وي، پۀ شونډو باندې کلمۀ طیبه او درود او سلام وي، پۀ مدینه منوره کښې وي او د سترګو د وړاندې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جلوه وي۔

ایمان پہ دے موت مدینے کی گلی میں
مدفن مرا محبوب کے قدموں میں بنا دے

(وسائلِ بخشش ، ص 112)

## د اذان کولو پۀ وخت ویره راتلل

د ابو بکر بن ابو طالب رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه بیان دے چې زۀ د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه جومات ته داخل شوم، مونږه د یوې ډلې پۀ شکل کښې وو، هغوئي هم د کور نه جومات ته تشریف راوړلو او اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰه یې ووئیل: مونږ د سلام جواب ورکړو، هغوئي دعا وکړه چې الله پاک دې تاسو ته د سکون او سلامتیا والا ژوند عطا کړي او مونږه او تاسو ته دې پۀ دنیا کښې د غمونو نه راحت عطا کړي۔ بیا هغوئي د اذان د پاره وروړاندې شول او اذان یې شروع کړو نو بے قراره شو او هغوئي د الله پاک د ویرې له وجهې پۀ رپیدو شول، چې کله

هغوئي اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا الله ووئيل نو د هغوئي د وروځو او ګيرې وينته ودريدل، زۀ ويريدم چې هغوئي به اذان مکمل نه کړے شي او د هغوئي ملا هم راتيته شوه، نزدې وه چې زمکې له يې تشريف وړے وے- (حلية الاولياء، 404/8، حديث:12685)

تو ڈرا اپنا عنایت کر رہیں اس ڈر سے آنکھیں تر مٹا خوفِ جہاں دل سے مٹا دنیا کا غم مولیٰ

## د شپې د شپې د بغداد شريف نه مکه مکرمه

د سلسلة قادريه د بزرګ حضرت معروف ګرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو ځل طواف ته خواهش وشو نو هغوئي د شپې د شپې د خپل ښار نه مکے مکرمې ته ورسيدل او طواف يې وکړو او واپس يې تشريف راوړلو- (جامع کرامات اولياء، 491/2)

اے د اوليائے کرامو عاشقانو! الله پاک خپلو اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم ته ډير عظمت او بزرګي عطا کړې ده، د اوليائے کرامو پۀ کرامتونو کښې يو قِسم ته "طَيُّ الۡاَرض" وئيلے شي، د دې مطلب دے چې زمکه راغونډيدل، د الله پاک دا اوليائے کرام رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم د الله پاک پۀ عطا سره پۀ يو ګام کښې څو څو ميله سفر کوي لکه د مياشتو سفر پۀ ګينټو، منټونو کښې وکړي- زمونږه پير او مرشد حضرت معروف ګرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم پۀ هغه اوليائے کرامو کښې وو-

## څۀ چې الله پاک غوښتل هم هغه وشول

د سلسلهٔ قادریه رضویه عطاریه د نهم پیر او مُرشِدِ، حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې یو کَس حاضر شو او عرض یې وکړو: نن سحر زمونږ کره ماشوم پیدا شوے دے او ما د ټولو نه وړومبے تاسو له دا خبر راوړے دے د پاره د دې چې ستاسو په برکت زمونږ په کور کښې خیر نازل شي۔ حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووفرمائیل: "الله پاک دې تاسو په خپل حفظ واَمان کښې وساتي۔ دلته کښینه او سل کَرَته دا ووایه "مَا شَاءَ اللهُ کَانَ" یعني الله پاک چې څهٔ غوښتل هم هغه وشول"۔ هغهٔ سل کَرَته دا ولوستل نو هغوئي د بیا لوستلو ووفرمائیل۔ هغهٔ سَل کَرَته بیا ولوستل نو هغوئي د نورو لوستلو ووفرمائیل۔ غرض دا چې داسې یې د پینځه کرته لوستلو ووفرمائیل۔ په دې کښې د یو وزیر د مور خادم یو خط او تیلۍ راوړله او حاضر شو او اوئې وئیل: یا سیدي! اُمِّ جعفر تاسو ته سلام وائي، هغې دا تیلۍ ستاسو په خدمت کښې رالیږلې ده او عرض یې کړے دے چې تاسو په غریبانانو او مسکینانو دا رقم تقسیم کړئ۔ دا یې چې واوریدل نو حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راوړونکي ته ووفرمائیل: "د رقم تیلۍ دې کَس له ورکړه، د دوئي کره ماشوم پیدا شوے دے۔ قاصد (یعني پیغام راوړونکي) عرض وکړو: دا 500 درهمې [یعني د سپینو زرو سکے] دي، آیا ټولې دهٔ له ورکړم؟ هغوئي ووفرمائیل: "آؤ! ټول رقم دهٔ له ورکړه، دهٔ پینځه سوه کرته "مَا شَاءَ اللهُ کَانَ" وئیلي وو۔ بیا هغه کَس ته متوجه شو او اوئې فرمائیل: "دا پینځه سوه

درهمي دي ستا مبارک شي، که د دې نه دې زيات ځل وئيلے وے نو مونږ به هم د هغې همره مقدار زيات کړے وے- (لاړ شه او دا رقم پۀ خپل کور والؤ باندې خرچ کړه)۔ ( عيون الحکايات، ص 277)

میں ہوں سائل میں ہوں منگتا یاکرخی مری جھولی بھردو
ہاتھ بڑھا کر ڈال دو ٹکڑا یاکرخی مری جھولی بھردو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ مصيبتونو باندې صبر الله پاک

## ته د نزدې کيدو ذريعه ده

د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ بارګاه کښې چا عرض وکړو: يا سيّدي! ما ته ووايئ چې زۀ د الله پاک قُرب (يعنې نزدې والے) څنګه حاصلولے شم؟ نو حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغۀ د لاس نه ونيولو او د يو مالداره کَس د دروازے خوا له يې بوتللو۔ پۀ دروازه کښې يو غلام ولاړ وو د چا يوه بنپه چې ماته وه۔ حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغۀ پۀ لور اشاره وکړه او د هغۀ کَس لاس يې ونيولو او ارشاد يې ووفرمائيلو: د دۀ پۀ شان شه، د الله پاک قُرب (يعنې نزدې والے) به حاصل کړې۔ (يعنې لکه څنګه چې دا غلام د خپلې ماتې بنپې باوجود د خپل آقا پۀ دروازه باندې حاضر دے نو داسې تۀ هم پۀ هر حال کښې د خپل رَبّ پۀ رضا باندې راضي اوسه او د هغۀ عبادت کوه)- (الروض الفائق، ص 183)

## د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

## غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته سلام

د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خليفه شيخ علي بن هيتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان دے چې زۀ د شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک ته حاضر شوم، زما پير او مُرشِد، حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سلام وکړو نو د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار شريف نه اواز راغلو: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ يَا سَيِّدَ اَهْلِ الزَّمَانِ يعني اے د زمانے سرداره پۀ تاسو باندې دې هم سلام وي- (بہجۃ الاسرار، ص 53)

جو ولی قبل تھے یا بعد ہوئے یا ہوں گے
سب ادب رکھتے ہیں دِل میں میرے آقا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص 23)

## د الله پاک پۀ بارګاه کښې عاجزي او انکساري

حضرت سيّدُنا قاسم بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې زۀ د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګاؤنډي ووم، يوه شپه ما هغوئي ژړا او دا شعرونه واوريدل: ترجمه: (1) کوم يو څيز زما نه ګناه کول غواړي، ما پۀ ګناهونو کښې مشغول ساتي او زما نه نۀ لرې کيږي- (2) کۀ تۀ پۀ ما رحم وکړې او اومې بخښې نو ګناه ما ته هيڅ نقصان نشي رارسولے، اوس خو زۀ بوډا شوے يم- (صفة الصفوة، 212/2)

## د معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دُعا

د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه د نهم پير او مُرشِد، حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په خدمت کښې يو کَس حاضر شو او عرض يې وکړو: يا سيدي (يعنې اے زما سرداره)! دُعا وکړئ چې الله پاک زما زړۀ نرم کړي۔ نو هغوئي هغۀ ته د دې دُعا د لوستلو ترغيب ورکړو: ''يَا مُلَيِّنَ الْقُلُوْبِ!اَلِيِّنْ قَلْبِیْ قَبْلَ اَنْ تُلَيِّنَه عِنْدَ الْمَوْتِ يعنې اے د زړونو نرموونکيه! زما زړۀ هم نرم کړې د دې نه مخکښې چې تۀ د مرګ په وخت دا نرم کړې۔ (الروض الفائق، ص 185) اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## رقتِ قلبی څۀ ته وئيلے شي؟

د زړۀ نرميدو ته رقتِ قلبی وئيلے شي، دا د الله پاک ډير لوئي نعمت دے، په حديثِ پاک کښې دي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: د رقَّتِ قلب (يعنې د زړۀ د نرميدو او ژړا وغيره) په وخت دُعا غنيمت وګڼه چې دا رحمت دے۔ ( کنز العمال، 48/1، حديث: 3367)

علمائے کرامو په دُنيا کښې د سعادت مندۍ په علامتونو کښې يو علامت د زړۀ نرمي بيان کړې ده۔ (تفسير روح البيان، پ 12، ہود، تحت الآية:105، 187/4 ملخصاً)

په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې امير اهلِسُنَّت عرض کوي:

قلب پتّھر سے بھی سخت ہے اِس کو نرمی عطا کیجئے
جگمگا دیجے قلبِ سیاہ لُطف بدرُ الدُّجیٰ کیجئے

(وسائلِ بخشش، ص 505 )

## د تقوىٰ بهترين مثال

د حضرت عبيد بن محمد ورَّاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان دے چې يو ځل حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چرته تشريف وړلو چې په لار کښې يو لرګے پروت وو، په هغې باندې د بنيو کيښودو په ځائے هغوئي د لرګي د پاځه واغوښتلو۔ د هغوئي په خدمت کښې عرض وکړے شي چې د پاځه د اووختو څۀ وجه ده؟ اوئې فرمائيل: ځکه چې د هغې مالک په پريشانى کښې اخته نشي۔ (کيدے شي چې په هغه لرګي باندې د بنيو کيښودو سره د ماتيدو يا د کمزوري کيدو يا د نخښې پاتې کيدو انديښنه وه د کومې په وجه چې حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په هغې باندې بنپې نه کيښودې د پاره د دې چې د هغې مالک وروستو پريشانه نشي۔) (حلية الاولياء، 409/8، رقم:12708)

## د امير اهلِسُنَّت احتياط

امیرِ اهلِسُنَّت، باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اسلافو يادګار (يعنې د هغوئي اعمالو او کردار ته د کتو سره بزرګان دِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم راياديږي) دے۔ هغوئي هم مُحتاط فى الدِّين (يعنې د دِين په معامله کښې احتياط کوونکے) دے، د هغوئي د حقوقُ العِباد په معامله کښې د احتياط يوه واقعه ولولئ او د خلقو د حقونو د خيال ساتلو ذِهن جوړ کړئ۔

د نواب شاه (د باب الاِسلام، سندھ، پاکستان) د اِسلامي ورور د بيان

خلاصه ده چې يو ځل د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ سره يو څو اِسلامي ورونړو چرته تشريف وړلو۔ د خوش قِسمتۍ له وجهې زۀ هم د هغوئي سره ووم۔ په يوه کوڅه د تيريدو په وخت باجري په نظر راغله۔ هغوئي ووفرمائيل چې که مونږ په دې ځائے تيريږو نو ويره ده چې د باجرې څۀ حصه خوره شي او ضائع شي لهٰذا مناسبه دا ده چې مونږ په بله لار لاړ شو، نو د بلې کوڅې لار اختيار کړے شوه۔ (حقوق العباد کی احتياطيں، ص 16) د الله پاک دې په اميرِ اهلِسُنَّت باندې رحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دُنيا د محبت نه د نجات مونډلو ميوه

د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه لسم پير او مُرشِد، حضرت سَري سقطي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خِدمت کښې عرض وکړو چې " د الله پاک فرمانبرداره بندګان په کوم سبب د هغۀ په اطاعت او فرمانبردارۍ باندې قادر کيږي؟" ارشاد يې ووفرمائيلو: "د هغوئي د زړونو نه د دُنيا د محبت د وتو په وجه، که د هغوئي په زړونو کښې د دُنيا محبت وے نو هغوئي به يوه سجده هم په صحيح طريقه نه وے کړې۔" (المستطرف، ص 154)

## په بغداد شريف کښې د وفات کيدو حکم

حضرت معروف كَرخي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بغداد شريف پهٔ باره کښې د خپلې ارادې اظهار کوي او فرمائي: ما ته خو پهٔ بغداد کښې د وفات کيدو حکم راکړے شوے دے ځکه چې د دې ښار دا نيکان خلق پهٔ رښتونو ابدالانو کښې دي- (اتحاف السادة التقين ، 560/12)

## وفات شريف

د عِلم او عمل، د فيض او کرم پرقيدونکے نمر پهٔ دويم محرم شريف کال 200 هجرى کښې د دې دُنيا نه د آخرت پهٔ لور روان شو، د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پهٔ جنازه کښې درې لاکهه خلقو شرکت وکړو-

(الروض الفائق ، ص 188)

د هغوئي عظيمُ الشان مزار مبارک پهٔ بغدادِ مُعلّیٰ کښې د حضورِ غوثِ پاک شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مزار مبارک نه پهٔ څهٔ فاصله (تقريباً شپږ کلوميتره) باندې دے- پهٔ زرګونو عاشقان اولياء د هغوئي مزار مبارک ته حاضرېږي او خپلو زړونو ته سکون رسوي او د دعاګانو د قبليدو نه فيض حاصلوي-

## د 1 لاکه 20 زرو ګنهګارانو نه عذاب لرې شو

د يو بزرګ نه منقول دي چې ما خپل يو ورور د وفات نه يو کال پس پهٔ خوب کښې وليدو او پوښتنه مې ترينه وکړه: ”اے زما وروره!“ مَا فَعَلَ اللهُ بِکَ يعنې الله پاک ستاسو سره څه معامله ووفرمائيله؟ نو هغهٔ جواب

راکړو چې اوس زۀ ازاد کړے شوے يم ځکه چې کله حضرت معروف ګَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږ خوا ته دفن شو نو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بښي، ګځ، مخې او شاته اړخ ته پۀ عذاب کښې راګيرو 30، 30 ګنهګارانو ته نجات ورکړے شو۔ (الروض الفائق ، ص 188)

## د معروف ګَرخي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مقام

حضرت احمد بن فتح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې "ما حضرت بشر حافي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خوب کښې وليدو او پوښتنه مې ترينه وکړه چې "الله پاک د حضرت معروف ګَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره څۀ معامله ووفرمائيله؟" نو هغوئي ووئيل "افسوس! هى افسوس! زمونږه او د هغوئي ترمينځه ډيرې پردے دي۔ حضرت معروف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د جنّت پۀ شوق کښې او د دوزخ د ويرې نه د الله پاک عبادت نه کولو بلکې د قربِ اِلٰهی (يعنې الله پاک ته د نزدې کيدو) پۀ شوق کښې به يې عبادت کولو لهٰذا الله پاک هغوئي د رفيق اعلىٰ پۀ لور اوچت کړل او د ځان او د هغوئي ترمينځه يې پردے لرې کړې۔" دا هغه مجربه نسخه ده لهٰذا چا ته چې پۀ بارګاهِ اِلٰهی کښې څۀ ضرورت وړاندې کول وي نو هغۀ له پکار دي چې د حضرت معروف ګَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار ته حاضر شي او د الله پاک نه دعا وغواړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغۀ دُعا به ضرور قبليږي۔ (صفة الصفوة، 214/2)

## ضرورت يې پوره شو

د حضرت سیّدُنا محمد بن عبدُ الرحمان زهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان دے چې ما د خپل والد حضرت سیّدُنا عبد الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه دا اوريدلي دي چې "د حضرت معروف كَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په قبر مبارک باندې ټول ضرورتونه پوره کيږي. او څوک چې د هغوئي د مزار خوا ته 100 کرته د سورهٔ اِخلاص تلاوت وکړي بيا د الله پاک نه سوال وکړي نو الله پاک به د هغهٔ ضرورت پوره کړي. (الروض الفائق ، ص 188۔ تاريخ بغداد، 134/1)

## زما کار وشو

حضرت يحيىٰ بن سليمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې زما يو حاجت وو او زما لاس ډير تنگ وو [يعني زهٔ ډير غريب ووم]. زهٔ د حضرت معروف كَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قبر مبارک ته حاضر شوم، ما درې کرته د سورهٔ اِخلاص تلاوت وکړو او د هغې ثواب مې حضرت معروف كَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته او د ټولو مسلمانانو روحونو ته اوبخښلو، بيا مې خپل ضرورت بيان کړو. چې څنګه زهٔ د هغه ځائے نه واپس لاړم نو زما حاجت پوره شوے وو. (الروض الفائق ، ص 188)

## د دُعا د قبليدو ځائے

د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ محترم علامه مولانا مفتي نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دعاګانو د قبليدو ځايونه بيانوي او په خپل کتاب "اَحسَنُ الوعا لِآدابِ الدُّعا" کښې فرمائي: مزار فائضُ الانوار سیّدُنا معروف

کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ، يعنې د هغوئي په مزار مبارک کښې دُعا قبليږي.

(فضائل دعا، ص 137)

## د اوليائے کرامو د مزارونو برکتونه

حضرت احمد بن عباس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ چې د بغداد شريف نه راوتلم نو د يو داسې کَس سره مې ملاقات وشو په چا کښې چې د عبادت نخښې ښکاريدلې. هغهٔ زما نه پوښتنه وکړه: تاسو د کوم ځائے نه راغلئ؟ ما جواب ورکړو: د بغداد نه په تيښته راغلم ځکه چې ما هلته فساد ليدلے دے، لهٰذا زهٔ ويريږم چې د هٰغه ځائے خلق په زمکه وردننه نکړے شي، هٰغه بزرګ ووفرمائيل: تاسو واپس لاړ شئ او مهٔ ويريږئ، ځکه چې په بغداد کښې د داسې څلورو اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم مزارونه دي د کومو په برکت چې بغداد والا د ټولو بلاګانو نه محفوظ دي. ما پوښتنه وکړه: هغه څوک دي؟ جواب يې راکړو: هغه حضرت امام احمد بن حنبل، حضرت معروف کَرخي، حضرت بِشر حافي او حضرت منصور بن عمار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم دي. نو زهٔ واپس لاړم، د دې الله والؤ د مزارونو زيارت مې وکړو او په هٰغه کال زهٔ (د بغداد نه) اونه وتلم. (تاريخ بغداد، 1/ 133)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ځلور مشائخ د ژوندو په شان اختیارات لري

حضرت سیِّدُنا شیخ علي بن هیتي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي چې ما ځلور بزرګان ولیدل کوم چې په خپلو قبرونو کښې هم د ژوندو په شان اختیار لري۔ په هغوئي کښې یو حضرت شیخ عبد القادر جیلاني، دویم حضرت شیخ معروف کَرخي، دریم حضرت سَیِّدُنا شیخ عقیل مَنبِجِي او ځلورم حضرت سَیِّدُنا شیخ حیا بن قیس حرّاني رَحمَۃُاللہِ عَلَیْهِم دے۔ (بہجۃ الاسرار، ص 124)

اللہُ غنی! شانِ ولی! راج دلوں پر دنیا سے چلے جائیں حکومت نہیں جاتی

(وسائلِ بخشش، ص 383)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## زما په وسیله باندې دُعا کوئ

د حضرت معروف کَرخي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د وراره حضرت یعقوب رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بیان دے: زما تره صاحب ما ته ووفرمائیل: ځویه! چې کله ستا د الله پاک نه څه حاجت وي نو زما وسیله ورکوه او د هغهٔ نه سوال کوه۔

(حلیۃ الاولیاء، 8/408، حدیث:12701)

حضرت سَري سقطي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بیانوي چې حضرت معروف کَرخي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ما ته نصیحت وکړو چې " کله تا ته څهٔ طلب کول وي نو داسې یې طلب کوه، یا الله پاکه! د معروف کَرخي په وسیله ما ته فلانکے خیز راعطا کړه یقیناً هغه خیز به تا ته عطا کړے شي۔ ( تذکرۃ الاولیاء، ص 234)

## د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د قبر شان

د پينځمې صدۍ هجرۍ عظيم بزرګ، حضرت خطيب بغدادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د حضرت شيخ معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه قبر مبارک د حاجتونو او ضرورتونو پوره کيدو د پاره مجرب (يعني ازمائيلے شوے) دے۔ ( تاريخ بغداد، 1/ 134 ملخصاً)

د شپږمې صدۍ هجرۍ جليل القدر محدث حضرت علامه عبد الرحمان بن علي جوَزي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ليکي: د حضرت سَيِّدُنا معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د مزار حاضري ترياق او مجرب عمل دے۔ (صفة الصفوة، 214/2)

د ديارلسمې صدۍ هجرۍ د فقهٔ حنفي عظيم امام، حضرت علامه سيد ابن عابدين شامي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: ”حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په ډيرو لويو بزرګانو کښې دے، د هغوئي دعاګانې به قبليدلې، د هغوئي د مزار شريف په وسيله باندې د باران د پاره دعا کيږي، هغوئي د حضرت سَري سقطي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه استاذِ محترم وو۔ (رد المحتار 141/1)

**اے د اوليائے کرامو!** مخکښينې زمانه خومره ښه وه، خلق د ښو عقيدو والا او د اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم دربارونو ته حاضرۍ کوونکي بلکې د هغوئي په وسيله باندې دعاګانې کوونکي وو۔ اوس چې کوم بزرګ د حضرت معروف کَرخي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فضائل بيان کړل دا پخپله هم ډير لوئي عالِم او مفتي وو۔ د هغوئي بهترينه علمي کارنامه د

”فتاویٰ شامي“ په شکل کښې په ټوله دنیا کښې مشهوره او معروفه ده او علامه شامي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِم شان بیانوي کاش چې د دې کتابونو نه فائده حاصلوونکي د هغوئي په ذات او کردار باندې هم عمل وکړي او په هغه لار روان شي او د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِم په باره کښې خپلې عقیدې او نظریې صحیح کړي۔

## د ډاکټر عبد القدیر خان (مرحوم) کالم

ډاکټر عبد القدیر خان (مرحوم) لیکي: بهوپال کښې یو جیّد عالم صاحب مونږ د سکول ماشومانو ته د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِم په باره کښې ووئیل او د خپل مقصد پوره کولو د پاره یې د حضرت معروف کَرخي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیۡہِ د وسیلې پیش کولو ترغیب راکړو۔ هغه دُعا دا وه:

خُداوَندا بمَقصُودَم رَسان زُوْد بحَقِ حضرتِ معروف کرخی
نِگهداری زِ آفت ہائے چرخی بحَقِ حضرتِ معروف کرخی

**ترجمه:** اے الله پاکه! د حضرت معروف کَرخي په وسیله زما مقصد زر پوره کړې!۔

د حضرت معروف کَرخي په وسیله مو د اسماني او زمکې د افتونو نه حفاظت وکړې!۔

” د حضرت معروف کَرخي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ “ په باره کښې د دې کالم (جنگ 13 جولائی) د چاپ کیدو نه دوه ورځې پس د کراچی نه د یو دوست فون راغلو چې د هغوئي دا کالم ډیر زیات خوښ شو او هغوئي د دې 200

کاپياني دوستانو او پيژندګلو خلقو له ورکړې او بيا هغوئي د دې دعا يو لوئي برکت دا بيان کړو چې د هغوئي د يو دوست ځوي د دريو کالو راسې بے درکه وو. د ډير کوشش او لټون او د پوليس سره د رپورټ درج کولو باوجود ځوي ميلاؤ نه شو او هغۀ پۀ زړۀ باندې د صبر پټې کيښودله. هغوئي خپل دوست ته د دې کالم لوستلو او د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ وسيله باندې د دُعا کولو ووئيل نو هغوئي اودس وکړو، دعائے حاجت دوه رکعته نفل يې ادا کړل او ډير پۀ ژړا يې د الله پاک نه د حضرت معروف کَرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ وسيله د خپل ځوي د واپسی دعا وکړه. د هغوئي د بيان مطابق هغۀ نمونځ وکړو او دعا يې وکړه او کښيناستو، نيمه ګينټه لا هم تيره شوې نه وه چې دروازه ودبيده، هغوئي چې بهر لاړل نو خپل ځوي يې وليدو. چا هغۀ پۀ دروازه کښې پريښودے وو. (جنګ اخبار 13 جولائی) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي ټولو باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شيخ طريقت امير اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خليفهٔ امير اهلِ سُنَّت الحاج ابو اُسَيد عُبَيد رضا مَدَني مدّ ظلّه العالی له طرفه هره هفته د يوې رسالې لوستلو يا اوريدلو ترغيب ورکولے کيږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامې خويندې دا رساله لولي يا اوري او د امير اهلِ سُنَّت او خليفهٔ امير اهلِ سُنَّت د دعاګانو حقدار جوړيږي. دا رساله په آډيو کښې د دعوت اسلامي د ويب سائټ

Read and listen Islamic يا د www.Dawareislami.net

book ايپلي کيشن نه فري ډاؤن لوډ کيدے شي. د ثواب په نيّت يې پخپله هُم لوَلئ او د خپلو مرحومينو د ايصالِ ثواب دپاره يې تقسيموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-679-5
01082504

فيضانِ مدينه محلّه سوداگران، پراني سبزی منڈی کراچي
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net